وهمچنان شمارا امت وسطي ساختيم تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

۸ صفحه

ارگان مرکزي حزب اسلامی افغانستان

دکندهار دهوائي ډګر دامنيتي قوا و ويوه پوسته د ۹ تنو عسکرو په شمول مجاهدينو ته تسليم شوه

ميديا - کندهار :
دارسيدلو ريپوټونو په اساس دکابل رژيم دکندهار دهوايي ډګر دامنيتي قواوو يوه پوسته دهوايي ډګرپه جنوبي امنيتي کمربند کي دمرد قلعه په سيمه کي دلېندي دمياشتي په ۲٦ نېټه چي يوصاحب منصب او ۹ تنه عسکر پکي وو داسلامي عفوي په بناسره مجاهدينوته تسليم شوي دي .
ريوټ زياتوي چي تسليم شوي عسکردکابل رژيم دظلم څخه په تنګ راغلي اودمسلمان وژني څخه ئي لاس اخستي دي . دغوعسکرو له څانه سره ۸ ميله کلاشينکفونه بوهاوان توپ، يو پيکاماشيندار ، پوراکټ ، يوه تومانچه ، اويوه پايه مخابره دنظامي موادوسره مجاهدينوته تسليم کړيدي .

فرمان الهي

وآنگاه که گفت شعيب (ع)به ايشان :
آيانمي ترسيد! به يقين که من براي شماپيام رسان امانت کارم .
پس بترسيدازخدا وپيروي کنيد مرا . ونمي طلبم ازشمادربدل رسانيدن پيام ، هيچ مزدي .
نيست مزدمن برديگري ،جزبرپرودگارعالميان.
سوره شعرآء
آيات : ۱۷۷ الي ۱۸۰ .

شماره مسلسل (٤۱۹) سال چهاردهم ،شماره (۱۱۵) پنجشنبه (۵)جدي ۱۳۷۰ هـ.ش- (۲۰)جمادي الثاني ۱٤۱۲ هـ.ق- (۲٦)دسمبر ۱۹۹۱م

روتسکوي با سران حزب وحدت در مورد آزادي اسراي روسي به توافق رسيد

مسکو ۳/ ۱۰/ ۱۳۷۰
تاس خبر گزاري شوروي ميگويد : رتسکوي معاون ريس جمهوري روسيه با مجاهدين مستقردر ايران در باره آزادي اسراي جنگي شوروي به توافق رسيده است . ترتيب آزادي اسراي جنگي شوروي به موازات آزادي مجاهدين افغان که در کابل زنداني اند صورت گرفته واز تاريخ بيست و پنجم دسامبر شروع مي شود .
مجاهدين مقيم پاکستان در جريان ديدار روتسکوي از اين کشور يك اسير شوروي را آزاد کردند ولي بعضي از تنظيم هاي تند رور تر مجاهدين مستقر در پاکستان که گفته مي شود بيشتر اسيران شوروي رادر اختيار دارند ازينکه در حال حاضر امتيازات بيشتري بدهند امتناع مي ورزند .
مذاکراه در باره آزادي عساکر اسير شوروي که عده آنها کمتر از يکصد نفر تخمين زده مي شود از اواسط ماه نوامبر در مسکو آغاز شد و بخشي از تلاشي بود که بمنظور دست يابي براي يك راه حل جامع براي مسئله افغانستان صورت مي گرفت . اگرچه چندين گروه از مجاهدين رفتن به مسکو را تحريم کرده اند .

مجاهدينو دهرات په ولايت کي يوه عراده ټانك سوځولي دي

ميديا - هرات :
دارسيدلي ريوټ په اساس مجاهدينو دهرات ولايت دزنده جان ولسوالي په لويديځه برخه کي دلېندي دمياشتي په ۲٤ نيټه داپښودل شوي ماين دچاودېدلو له امله درژيم دقواوويو عراده ټانك دسپرلونو سره يوځاي داوړلمبه کړي دي .

بنام نخداينکه برانطره مهربان نهايت ملهم آمت

سر مقاله

دجدي شپږمه دسري امپراتوري دزوال پيلامه

دسروپوځونو ديرغل پروخت له هري خوازمزمه کيدله ، چي افغانستان هم دختيزي اروپا اويا دنوروګاونډيو هيوادونو غونډي دسري امپراتوري له اقمارو وګرځيد، اوختيځ ښکيلاك له امريکا سره دمقابلي لپاره تودوداويوته خپل مزل لند کړ . دمهاجرينو ددوهم تاتوبي پاکستان په باب خودا فکر کيده ، چي هغه يوقانوني حکومت نه لري، سياسي چاري يي پوخ سمبالوي، نوځرنګه چي په ولسي ملاتړندي ويارل شوي، داامکان نشي پيداکولي ، چي له يوه سترځواك سره دي وج په وچه دغري ووهي، امريکا هم چي دويتنام په مورچلوکي يي خپله ماته ياده وه ، يوسترماموريي په پاکستان کي دروس ديرغل په باب خپل عکس العمل داسي څرګندکړ، چي مويايد اوس پاکستان وساتو . پداسي حال کي چي دسرولښکرواړاندي تګ دلويديزوالوپه ګډون دټولي نړي ساه دويه کړي وه ، دافغانستان له ګوټ ګوټ نه پسي دجهاد بيرغونه پورته شول . بايد يادونه وکړو، چي دافغاني پرګنو پاريدلي بهيرداسلامي تحريك دمجاهدوشاه خلموله خواداسي منظم اوپه حرکت راوړل شو، چي دقرباني له يونه بي دسري امپراتوري پولي هم بچ ونه ساتل شوي، اوديوي لسيزي په لندوخت کي يي دګردي نړي محکومان دخپلي ليکي په تعقيب دفداکاري دګرته راوبلل . دافغانانو قرباني په رومبي قدم کي داسلامي وينتايه غورځنګ بياراژوندي اوهغه يي تشجيع کړ . دوهمه پلاني روسي پوځونه تيښتي ته اړکړل، اويدي توګه يي هغه شيطاني واهمه چي ګوندي سره پوځونه پرشانه ځي، په نړيوال ذهن کي دري وري کړه . اويدي ورووستيوشيبو کي کمونيزم دمترقي توب اوجديديت له ټولو شعارونو سره سروخوړ، اودروس له ځيتي دتجزيي په صورت کي لسګونه نورهيوادونه وزيږيدل. داله الهي (ج) معرفته پرته بل څه کيدلي شي، چي روسان دافغانستان په اشغال پسي له پولو راواوښتل ، خوپه حقيقت کي پخپله ښکاراوله منځه ولاړل . زمويپه فکرداد" ولاتهنوولاتحزنو ... " دهغي خداي (ج) ژمني تفسير اوتعبيردي، چي د بشپړتطبيق په صورت له مومنانو سره شوي، اوداشيبي مويخپلو سترګويه افغانستان کي وليدلي . داسلام دمقدس دين دنوښتونو اودتخليق دقوت ويره ده ، چي نړيوال کفريي لړزولي، اودادي ګورو، چي دپرياليتوب پدي ورووستيو شيبوکي داسلامي انقلاب دخط السير دانحراف زيارګالل کيږي . دسره ښکيلاك له دري وړي کيدو وروسته امريکا اولويديځ ښکيلاك داسلام دښمني ميدان ته رادنګلي، اوداسلامي انقلاب ربښتياني علمبرداران په ډول ډول نومونو بدناموي . دخپل سياسي حل چي په حقيقت کي دامريکايو کافرانه اقدام دي،

(۷ مخ)

ګرباچوف با کارکنان دفتر خود وداع نمود

مسکو ۳/ ۱۰/ ۱۳۷۰
نطاق ګرباچوف گفت : رئيس جمهوراتحاد شوروي منحله فردا ساعت بيست ويك بوقت محلي استعفاي خود را اعلام خواهد کرد .
گرباچوف همچنين به خبرنگاران گفت : استعفا باهم آهنگي بوريس يلتسين انجام ميگيرد . دراين ميان نطاق کرملين گفت : گرباچوف امروز با کارکنان دفتر خود وداع گفت خبر گزاري رويتر نيز در گزارشي از مسکو خبر داده است رئيس بانك مرکزي شوروي سابق بدليل تشکيل جامعه مشترك المنافع استعفا کرد ولي مجلس جمهوري ها تصميم گيري در مورد رد ويا قبول استعفا را تايك هفته ديگر به تعويق انداخته است .

برادر سيدرحمن "واحديار" قوماندان غند الفتح در مصاحبه با خبرنگار شهادت

ما بارهائی اسرای روسي قبل از رهائی اسرای مجاهدين مخالف می باشيم

ضمن پروگرام نظرخواهي ومصاحبه باقوماندانان سنگرهاي داغ جهاد . اخيراً خبرنگار روزنامه شهادت بابرادرسيدرحمن " واحديار " قوماندان غندالفتح مصاحبه انجام داده ودرمورد مسايل سياسي ونظامي ازايشان طالب معلومات شده است که جهت آگاهي بيشتر خوانندگان شهادت به نشرسپرده مي شود .
سوال : لطفاً درمورد وضع جهادي منطقه به خوانندگان روزنامه شهادت معلومات دهيد ؟
جواب : محترما ! شما ميدانيدکه حزب اسلامي افغانستان پروگرام عمليات را بالاي کابل طوري ترتيب داده که به چهارمحاذ تقسيم نمودکه بنده بحيث مسئول يك محاذ آن مسمي به محاذ بدر " شرق وجنوب شرق کابل " که دراين منطقه وضع جهاد الحمد لله خيلي موفقانه بوده وهرروزه بادشمن درجنگ مصروف ميباشد تاحال مايان سه پروگرام تعرضي را بالاي اهداف مهم وبزرگ دشمن انجام داده ايم .
تعرض اول ما بتاريخ ۱۹ سنبله ۱۳۷۰ وتعرض دومي مابه تاريخ ۳ ميزان ۱۳۷۰ وتعرض سوم بتاريخ ۱۸ ميزان ۱۳۷۰ ، صورت گرفت که دراين تعرضات مجاهدين اهداف ذيل دشمن راتحت حمله قرارداده اند .

دلوګر ولايت دعينك دمسو کان يوه ستراتيژيکه پوسته فتحه شوه

لوګر دلېندي ۲۱ مه :
دلوګرولايت نومياليو غازيانو دنوموړي ولايت دمسو دکان امنيتي پوستي ترڅپلو برياليو بريدونو لاندي نيولي اوورته ني درانده تاوانونه رسولي دي په هغه ريوټ کي چي له نوموړي ولايت څخه ترلاسه شوي ويل کيږي مجاهدينو دروان کال دلېندي دمياشتي په ۲۱ مه نيټه دلوګرولايت دعينك دمسو دکان امنيتي پوستي ترېوه برياليي بريدلاندي ونيوي چي په نتيجه کي دنوموړي کان يوه ستراتيژيکي پوسته فتح او پنځه کسه وسلوال عسکرژوندي ونيول شول .
په خبرکي دمجاهدينو دتلفاتو په باب څه ندي ويل شوي .

بررسی امکانات حل معضله افغانستان در سمينار منعقده آلمان

به اساس گزارش هاي رسيده ازآلمان سمينارې درمورد بررسي امکانات حل معضله افغانستان به اشتراك افغانهاي صاحب نظر ومتعهد به جهاد افغانستان مقيم اروپا به تاريخ ۲۲ الي۲٤ قوس سال جاري درشهرمونشن آلمان دائر گرديد .
طبق اطلاع مشمولين سمينار درقبال قضيه افغانستان وحالات جاري بحث ومناقشه نموده فيصله هاي ذيل راصادر نمودند .
۱- تائيد وطرفداري کامل ازتماميت ارضي، حاکميت ملي وحق خود ارادیت مردم افغانستان .
۲- تائيد وطرفداري کامل ازتشکل دولت اسلامي درافغانستان مستقل وآزاد .
۳- تقبيح هرنوع مداخله خارجي درامور داخلي افغانستان
٤- پشتيباني ازتلاش هاي دول اسلامي وهمسايه درحل قضيه افغانستان به اساس آرمان ملت مجاهد افغانستان .
۵- حمايت وپشتيباني کامل ازتشکل شوراي قيادي زعماي جهاد جهت بنيان گذاري يك حکومت انتقالي درافغانستان .
٦- تائيد وتاکيد ازآرمان هاي ملت مبني بر ايجاد يك حکومت اسلامي به اساس انتخابات آزاد .
۷- استقبال ازمساعي سازمان ملل متحد متکي به احترام به اصل حق خود ارادیت مردم ازطريق مفاهمه وارتباط باتنظيم هاي جهادي کشور .
اعضاي کميسيون که ازطرف سمينار موظف به صدورقطعنامه فوق الذکر گرديدند عبارت اند از، داکتر عبدالحکيم طبيبي ، داکتر فاضلي، داکتر نوروزي، داکترحليم کريم ، استاد حليف ، محمد حليم تنوير ، محمد عاصم "مجددي" تيموريور، عظيم آبرومند ، وخليل الرحمن واصل زاده .

دګرديز دخاد رئيس له ٤ صاحب منصبانو سره مجاهدينو ته‌تسليم شو

پکتيا :
دپکتيا ولايت کفرځپونکو سرتېرو دنوموړي ولايت مرکز دخپلو درندو اوسپکووسلوترېريدلاندي نيولي اودلاس پوځي رژيم پلويان ني ځان تسليمي ته اړکړي دي په هغه ريوټ کي چي دنوموړي ولايت څخه دميديا په حواله ترلاسه شوي ويل کيږي .
دروان کال دلېندي دمياشتي په دي وروستيو ورځوکي دګرديز دخاد رئيس سره له ٦ کسه صاحب منصبانو هريو جګتورن سراج الدين بريدمن حضرت ګل بريدمن عمراخان دخاد شبکي يوشمير نور منسوبين او ۹ کسه عسکرومجاهدينو ته داعلان شوي عمومي عفوي دفرمان مطابق ځانونه تسليم کړي اود مجاهدينو سره ني دکمونست رژيم دپلويانو په ځپلو کي په ښکاره ونډه اخستي ده .
خبرځاي ليکي : دګرديز دخادرئيس جګړن محمدعمردخپلو ملګروسره دتسليمي په وخت کي دکابل دملحدرژيم له واکدارانو څخه کرکه څرګنده کړي .
جګړن محمد عمر چي پدي وروستيو کي دتيري کندو امنيتي پوستوته تللي وو ده دمجاهدينو سره ډير ژرخپله رابط ټينګه کړه او دنومو ړو پوستو ټول پرسونل ني دي ته چمتو کړتر څو دمجاهدينو داعلان شوي عفوي سره سم مجاهدينو ته تسليم شي خبرځاي ليکي : نوموړو خاد ستانو له خپل ځان سره دوه توپونه، دوه ميله زيکويك ، ۹ ميله پيکا ، دري ميله راکټ انداز ، ٦ ميله کلاشينکوفونه دري ميله کره بين ، دوه ميله تفنګچي ، دوي پايي دمخابري دستګاه وي ، دوه عرادي موټرونه مجاهدينو ته تسليم کړي او دوي دپکتيا ولايت دزرمت ولسوالي ته په امن رسيدلي دي .

شپږ تنه کشميري مبارزين په شهادت ورسيد ل

دتيرو شوي کشمير په بيلابيلو سيموکي دهندي اشغالګرپوځ اوکشميري مسلمانو مبارزينو ترمينځ نښتي په شدت سره رواني دي .
له نوي ډيلي څخه رسيدلي خبرونه وائي چي دکشمير په دره کي دتيرو څلورويشتو ساعتو په دوران کي دکشمير له مسلمانو مبارزينو بانډي دهندي يرغلګرانو حملو په ترڅ کي ٦ کسه شهيدان شول .
ددغوريوټونو په اساس تيره شپه هم دکشمير مسلمانو مبارزينو دکشمير په دره کي دهندي قواو په يوه واحد ډزي وکړي چي دتاوانو نوراپوړتي ندي ترلاسه شوي

حزب وحدت په تهران کي خپل دفترونه وتړل

کريم خليلي

نواي وقت : ۲۵ دسمبر
په تهران کي پښتنو افغاني شيعه ډلو خپل ټول دفترونه وتړل او په پېښور کي يي دموقت حکومت سره يوځاي خپل مرکزي دفتر پرانست ، ځيني ذريعي دکريم خليلي په حواله خبورکوي چي په افغانستان کي دفعلي وضعي په نظرکي نيولو سره دغه اقدام شويدي ذريعي زياتوي چي دخپلواك افغانستان دجوړيدو په وخت کي افغاني شيعه ډلو په تهران کي خپل دفترونه تړل اود عبوري حکومت ترڅنګ دفتر جوړولوته ترجيح ورکړيده ، داخبره ډيادولو وړده چي روسي هيئت اسلام اباد ته له راتلومخکي په تهران کي هڅه وکړه چي له اهل تشيع ډلو سره خپل معاملات يوطرفه کړي خوحزب وحدت مشرانو داهڅه ناکامه کړه ا و په اسلام آباد کي يي له نورو افغاني ګوندونو سره يوځاي دخبرويه کيدو اصرار وکړ.
ديويل خبرله مخي چي هغه هم نواي وقت خبورکوي ويل کيږي چي په پيښور کي افغاني شيعه ډلو داخبره ردکړي چي ګواکي دوي په تهران کي خپل دفترونه تړلي دي، هغوي وايي حزب وحدت له ايران سره ښي اړيکي لري .

رئيس جمهور اوکراين نقشه هاي غرب را مورد انتقاد قرارداد

۳/ ۱۰/ ۱۳۷۰
کرامچوك ريس جمهوري اوکراين از نقشه هاي غرب مبني بر شناسائي روسيه به عنوان ادامه قانوني اتحادشوروي سابق انتقاد کرده است .
کرامچوك در مصاحبه با بي بي سي گفت : که بعضي از کشورهاي غربي درك نميکنند که از اتحاد شوروي سابق کشورهاي متعددي جديدي بوجود آمد ه است .
کرمچوك خاطر نشان کرد که وي روسيه را به عنوان نماينده منحصر به فرد جز که مشترك المنافع جديد در تشکيلات بين المللي جز در شوراي امنيت سازمان ملل متحد قبول ندارد . وي افزود که روسيه تنها ميتواند ز جانب خودش صحبت کند .

دانشمندان چين دواي "ايدز" را کشف کردند

پيکنگ ۳/ ۱۰/ ۱۳۷۰
گروهي از دانشمدان چيني ادعا کرده اند موفق به کشف يك داروي گياهي شده اند که قادر است ويروس ايدز را ظرف سي ثانيه از بين ببرد .
خبر گزاري چين گزارش داد اين دانشمندان داروي ضد ويروس ايدز را از گياهان داروئي بر اساس نسخه هاي معروف طبي قديم چين تهيه کرده اند .
۹۰۱ . جي . تي علاوه بر تداوي بيماري ايدز ميتواند چند ويروس ديگر را نيز از بين ببرد .
در حاليکه خبر گزاري چين اعلام کرده اين دارو، در پيکنگ در حال توليد انبوه است سازمان بهداشت جهاني هنوز رسما" در باره آن اظهار نظري نکرده است.

در دفتر قواي هوائي کابل انفجاري رخ داد

آمريته‌وښا ارتباط مرکزخبرميدهدکه بتاريخ ۸٫۹٫ ۱۳۷۰ ساعت هشت بجه صبح دربلاك هاي مربوط قواي هوايي شهرکابل انفجاري شديد صورت گرفت که دراثرآن ماشين عمومي جنراتوربرق قواي هوايي بکلي تخريب وبلاك هاي همجوارآن خساره مندگرديدند .
درخبرعلاوه گرديده که بمب زماني منفجرگرديد که توسط شخص فني خنثي ميگرديد فلهذا درين حادثه سه نفرفني رانيز جابجا هلاك وچهارنفر ديگرمجروح گرديده است .

دجدی دشپږمـــی يـــرغـــل دسری امـــپـــراتـــوری دزوال پـــيلامـــه

حق راغي اوباطل نابود شو :

ننگیار

هغه " شوروي اتحاد ! " چې کمونستانو دملیونونو بې گناه انسانانو دسرپه بیه اودېرچې په زور رامنځته کړې و، زمونږ دسپېڅلي اسلامي مقاومت له برکته په عملي ډول نابود اوبوي دتاریخ کندي ! ته وغورځول شو اوپدې ډول کمونیزم دبوي ناکامي ، بدنامي اوانساني فطرت ضدنظریې په توگه داسلام په مقابل کې خپل طبیعي انجام ته ورسید .

کله چې په روسیه کې کمونستان دخبیث لیان په مشري قدرت ته ورسیدل اوترڅه حده ځواکمن شول، سمدستي يې دټولو نړیوالو، خپلمنځي اوبشري قوانینو اوموازینو پرخلاف په خپلو گاونډیو هیوادونو یرغلونه وکړل اوبو، يويې ځوك دزور اوجبرله لاري اوڅوك دچل اوفریب په ذریعه ترخپلې سلطې لاندعراوستل او هغه پروني " شوروي اتحاد ! " يې جوړکړ . چې کرار، کرار ترې دنړې ستریوځي طاقت جوړشو اودټولې نړې دټبولو اوپه خپله سره امپراطوري کې دورشاملولو خام خیال يې په سرکې وروگرځید .

دمرکزي آسیاداسلامي هیوادونو ترنیولو وروسته یې پراروپایي هیوادونو یرغلونه وکړل اودختیځې اروپا ډیرهیوادونه یې ترخپلې سلطې لاندي راوستل اوخپل لاس کېنولي " کمونست " حکومتونه یې پرې مسلط کړل .

سره له دې چې په نومړو آسیایي اواروپایي هیوادونو کې خلکو ترڅه حده مقابله اومقاومت وورسره وکړ ، ولې نتیجه یې منفي اوپه ناکامي منتج شوه .

دادکمونستانو شعارشو چې یوځل کمونستان اوپالخاصه شورویان کوم ځاي اشغال کړي بیایې بیرته نه خوشي کوي . ربښتیا هم همداسي وو، په روسیه کې دکمونیزم په اوپاکلنه موده کې چې روسانو کوم هیوادونه لاندې کړل، وگړویې بیامقاومت وورسره ونشوکړاي اونه پدې وتوانیدل چې بیرته یې له خپل تاتوبي نه وباسي .

دروسانو لپاره دنړې نیولو په مخ کې سترخنډ ددغه هیوادبحرته دلاري نه لرل و اوله همدې امله یې نشواي کړاي چې پرمختگ وکړي . دروسانو په مقابل کې دامریکا اوغربي هیوادونو ودریدل اودنړې خوړلو په سردښمني څه ناڅه دروس لپاره ستونځې پیداکړې وې چې داستونځې یواځې دبحرله لارې لرې کیداي شوې چې پدې ډول داکاریواځې بحرته دورځیرمه اونږدې هیوادونو په نیولو سره ترسره کیداي شواي اوبس .

بحرته درسیدولنډه لارد افغانستان اوپاکستان په نیولو اولاندي کولو سره مسیر پداي شواي او بیا روس کولاي شواي په آسانه هر بحرته لارومومي اوهم دسیمې ټول هیوادونه چې اکثرا یې اسلامي هیوادونه وو ترخپلې ولکې لاندي راولي . ... چې دروس بې عقله واکدار " برژنیف " دهمدغه هدف د ... کولو ... په افغانستان کې خپل گوډاگیان " خلقیان " قدرت ته ورسول اوبیایې د ۱۳۵۸ کال دمرغومي په شپږمه نیټه په ډیربې شرمانه ډول حملې فواوي " سورپوځ " زموږ گران هیوادته رادننه کړې اوپه داسي غروراوکبرتو کابله راورسیدل چې ټوله نړې وورسره وخوځیده اوهیبت یې نړیوال ویوږنول .

په ربښتیاچې په مادي اوپوځي لحاظ باید افغانستان څه چې پاکستان هم دتل لپاره دروس په گیډه کې لویدلاي واي ، ځکه له یوې خوا په کابل کې دهغوي گوډاگي حکومت او وورسره پوځ او له بلې خوا دروس ددرې لکویه شاوخواکې دوخت په نوبو اوپر مختللیو وسلو سمبال پوځ داکولاي شواي چې دافغانستان غوندي دبو وړوکي هیواد، غریب اوبې وسلې خلك دې په څو ورځوکې تارومار اودځان تابع کړي، لکه چې نړیوالوهم همداسي قیاس کړي و اوله افغانستان نه یې دتل لپاره لاسونه وینځلي وو . ولې دمهربان اوعادل خداي (ج) اراده بله وه ، تواناخداي (ج) دخپلو مخلصو بندگانو په مټوکې داسي زوراوپه سینوکې داسي صبر اوحوصله پیداکړه چې دوخت له دې سترطاغوتي ځواك سره يې په تش لاس اووږې گیده همسي مقاومت اومقابله وکړه چې په نتیجه کې یې له خپل اسلامي هیوادنه په ایستلو برسیره دهغوي نوم هم دنړې له نقشې نه دتل لپاره ورك کړ .

دادخداي (ج) په مینه مست اودشهادت تږي خلك دافغانستان هماغه مظلوم اوغریب ملت وو چاچې انگریزي استعمارهم دهمداسي سرنوشت سره مخامخ کړ . داهغه مؤمن اوباتورملت دې چې تل یې دکفر اویرغلگروخولي له خاورو ووږکي کړې اوپه ذلیلانه ډول یې له خپل هیواد ه ایستلي دي . دادمهربان خداي (ج) سترورحمت دي چې دنړې دطاغوتي اواستعماري قدرتونو دزوال اوورکې افتخاریې دمؤمنو افغانانویه برخه کړې دي .

عادل خداي (ج) زمونږ دیونیم ملیون بې گناه شهیدانو انتقام واخست اوزمونږ دبې شمیره کونډو، یتیمانو، یورو، ورارو، معیوبینو ، مهاجرواو بندیانودعاگانې یې قبولي کړې . ددغه ستریې اوبې مثاله تاریخي فتحې افتخار زمونږ داتلومجاهدینو په سردې، هغه مجاهدین چې په تش لاس ، لوږه اوتنده ، یخنې په یخنې اوگرمې کې یې شپې اوورځې دخپل دین اوناموس نه ددفاع په سنگرکې تیره کړې اوترورروستي سلگۍ پورې یې له خپل مقدس ارمان نه دفاع وکړه .

پدغه ستره اوله وياړه ډکه فتحه کې پرځواناتو، سپین ږیرو اوماشومانو برسیره زمو نږ مومنو خوېندواومیندو هم برابره ونده واخیسته اودخداي (ج) په لارکې ټولو ستونځو او کړاوونو ته یې په ورین تندي اوږه ورکړه اوله خپلو ورونو اوزامنو سره یې اوږه په اوږه دجهاد بریالي اوسپیڅلي کاروان بدرگه کړ .

زمونږ اتلو اوپرخداي (ج) مینو مجاهدینو یواځې ځان اوهیوادنه چې پخپله روسان هم دکمونیزم له سري خونکاري بلاخاص اوآزادکړل اوبالاخره خبره دېته راورسیده چې " شوروي اتحاد ! " په رسمي ډول له منځه لاړشي، دبزگرانو ،کارگرانو، خوارانو اوغریبانو په وینو سورکمونیستي بیرغ راکوزشي اودبشریت دقاتل " لینن " مجسمې دخلکوله لغتولاند وغورځیږي اولارې پرې توکړي اوحتي محاکمه یې کړي .

چې پدې حساب زمونږ هرمجاهداتل ، دگران اسلام دافتخار ځلي اودکمونیزم اوروسي استعمار دورکې اونابودۍ سبب دي . زمونږ دغه باتور اوتوریالي مجاهدین باید خپله اندازه اواهمیت درك کړي اودخپل خداي (ج) له خوا دورکړي مقام حیثیت وساتي . دامقاومت، جهاد ، کړاوونه ، منډې رامنډې، هجرتونه اودربدرۍ ، محرومیتونه اوناخوالې وې چې په زغملو سره یې نن دنړې له ټولو ستریوځي اومادي قدرت چې تقریبا دنړې پنځمه برخه یې تشکیلوله له منځه لاړ، او دتل لپاره له خاورو لاندي شو .

اوس باید دخپل هیوادپه مکمله آزادۍ پسې دیویل لوي شیطان ...

کمونیزم نابود شد

دلجو (حسینی)

به تاریخ ۲۱ دسامبر ۱۹۹۱ میلادي یازده جمهوري جدید التولد درالماآتا پای تخت جمهوري قزاقستان بصورت رسمي پایان اتحاد شوروي سوسیالستي را اعلان نمودند وقراراست تاچند ساعت دیگر گورباچوف آخرین امپراتورقلمرو اردوگاه کمونیزم پایان کار خودرا نیز اعلان نماید !!! سپاس پروردگاري راست که ، به حکمت وقدرت بي چونش وبوسیله ضعیف ترین بندگانش بزرگ ترین قدرتهاي جبار وزورگوي تاریخ را از کره زمین محو ونابودمي سازد . تا عبرتي باشد به همه ستمگران وزورگویان درآینده ها .

پس ازکمونیزم وستمگر بها وترك تازي هاي وحشیانه آن درهمه کشورهاي آسیا خصوصا درعدهٔ رویداد هاي زیادي رابابد انتظار کشید، وخودرا به استقبال ازآنچه که باید بوجود آید وبآن مقابله صورت گیرد آماده ساخت . درنخستین قدم ظهورشش جمهوري مسلمان نشین درآسیاي میانه ، رویداد عظیمي است ونیازبه تعمق فراوان دارد . زیرا استیلاي کمونیزم درمدت هفتادسال بصورت طبیعي باید ازجهات زیادي بر این کشورهاي مسلمان نشین مضروتباه کن تمام شده باشد . اگر از تجربه که درپیش روي ماست استفاده صورت بگیره . نخست ازهمه باید به تجدید حیات معنوي وبازسازي فکري وفرهنگي این سرزمین هاي اسلامي کمك نمود . تا خودشان درآینده نزدیك بعدازدست یابي به نیروهاي عظیم معنوي خود واحیاي مجدد فرهنگ پرباراسلامي گذشته شان بتوانند برهمه ناتواني هاوکاستي ها غلبه حاصل نمایند .

کشوراسلامي پاکستان که سالها مشکلات زیادي را توسط عوامل روس مثل هندوستان درمنطقه متحمل شده بود . بلادرنگ شش جمهوري مسلمان نشین آسیایي را برسمیت شناخت ودست به حرکت دیپلوماتیك خوب وسریع زد، زیرا فرصت مساعد شده است وديگرتعلل وتوقف جایزنیست . اتحاد شوروي گذشته بحیث بزرگترین حامي هندومدافع آن بشمارمیرفت ، تلاش کمونستها این بود تاهندوستان بعنوان ، ابرقدرت منطقه باقي بماند .وبراساس همین استراتژي استعماري کمونیستي درمنطقه آسیا ارتش مجهز هندو درزیرحمایت شان قرارداشت ودرتمام منازعات مرزي ومشکلات داخلي هند مانند مسایل ازقبیل سرکوب خونین ووحشیانه مسلمانان آزادیخواه کشمیرسرکوب مسلمانان هندوستان وغصب اموال ودارایي شان، بي حرمتي بااماکن مقدس مسلمانان پایمال نمودن حقوق سیاسي ومدني شان توسط هندوها متعصب ودولت مردانشان این جنایات ازجانب کمونستهاي روسي بعنوان یك ابرقدرت بزرگ شرق حمایت مي شد .

درافغانستان همه رژیمهاي فاسد گذشته با رژیم هاي هند ودرهندوستان داراي روابط نیك وحسنه بودند وبرعکس روابط تیره وغیر دوستانه حتي دربسیاري موارد خصمانه باکشورو اسلامي پاکستان داشتند . تبلیغات دیکته شده وتحمیلي ازجانب روسها چنان بودکه گویا ملت افغانستان درجهان یك دشمن دارد وآنهم پاکستان است . وهمچنان درجهان دودوست دارد وآنهم روسها وهندوها هستند !؟

اکنون حامي اصلي هند از میان برداشته شده است وقلمرو اتحاد شوروي سابق ! به کشورهاي متعدد تقسیم گردیده ، که پاکستان میتواند برعکس گذشته ها باهمه آنها خصوصا باچند جمهوري مسلمان نشین مناسبات برادرانه ونزدیك داشته باشد . زیرا درپاکستان زمینه هاي مساعدوخوبي براي همکاري هاي فرهنگي واقتصادي به این چند جمهوري مسلمان نشین وجود دارد .

طبیعي است که این همه نعمت براي مسلمین ازالطاف الهي وظاهر امر فداکاري وجان نثاري وخون شهداي بزرگ ملت افغان است .

امت اسلامي ازفلسطین تاوسط آسیاي میانه ازجانب ابرقدرت گذشته کمونیستي دچارمشکلات فراواني بودند . واکنون آن قدرت ستمگرومسلح ومجهز وخونریزوکودتایي دیگر وجودندارد !! پس باید به این ملت بزرگ ارج نهاد وازآن سپاس گذاري وحمایت نمود .

و حق آن را که درحقیقت این نعمت را به جهان اسلام سبب شده است بجاي آورد . پس تا ایجاد حکومت اسلامي ونابودي بقایاي کمونیزم ازافغانستان ونیز تعمیرمجدد این سرزمین ویران شده ازستم کمونیزم ، باید همه کشورهاي اسلامي کمك هاي برادرانه شانرا ادامه داده باعجله ونیز پیش اندلختن منافع زودگذر خود، خداي نخواسته ضربه به انقلاب واردنیاورده . واین ملت بزرگ را دچارمشکلات نسازند .

درآستانه قبول شکست روسها وتلاش براي دست یابي به راه حل سیاسي عده سخت دست وپاچه شده بودند !! وعجولانه مي خواستند برروي همه چیزمعامله گري نمایند . وکاررا پایان یافته تلقي مي کردند . اگر ازیاد نرفته باشد بازاین ملت بزرگ وفداکار بود که تن به آن سازشها وذلت هاي که سیاستمداران حرفوي مي خواستند بدهند نداد ویك تنه براهش که همان تداوم جهادبود ادامه داد . اکنون دیگرابر قدرتي دوجهان وجودندارد وحداقل شش کشورجدید اسلامي درجهان جاافتاده است . اکنون نیز عده عجله دارند ومي خواهند بازمعامله گري نمایند، ولي اگربا تأمل ودرایت فکري حرکت صورت گیرد، جهان اسلام به پیروزي هاي بزرگتري دست خواهد یافت که درآن صورت مهمترین ثمره آن آزادي کامل افغانستان بابرقراري نظام اسلامي، آزادي مسلمانان کشمیر ونیز آزادي فلسطین ازچنگال خونین صهیونیزم خواهدبود .

ارتش روس درحال حاضربعد ازفروپاشي اتحاد شوروي، به نوکران سابقه اش درافغانستان بشدت کمك مي نماید. سلاح ، مواد سوختي، موادغذایي براي ارتش وملیشه ، کمك بزرگ پولي، وغیره ادامه داردوهمین حالاباسلاح روسي وکمك آن روزانه صدها مسلمان درداخل کشوربشهادت مي رسند .

ولي روسها درتلاش اندکه اسیران شان آزادشود ! !! وهزاران مسلمان درچنگال نوکران روس باقي بماند !! آخر درکجاي جهان دیده شده قبل ازختم همه منازعات وتعهد درمسایل آینده واخذ غرامات جنگي اسیران جنگي متجاوزین وآنهم یك جانبه آزادشوند !! دیده شده درتلاشهاي اخیر روسها براي مذاکرات فقط یك هدف داشته اند وآنهم آزادي اسیرانشان بوده است . نمایندگان روسها بعدازاینکه نمیتوانستند به اهداف پلیدشان ازراه ظاهرا مذاکره که همان راه فریب بود، به چیزي دست بیابند، به دروغ پردازي وچرندیات گوئي پرداختند .

نماینده روسي، گفت معلوم نشد، رهبران مجاهدین چه مي خواهند !! درحالیکه بیش ازچندین دهه است که به صدهازبان وده ها طرزگفته شده است که روسها! درامورداخلي مامداخلت نکنید ، وتوسط کمك هاي تان ازعده مزدورکه شمابه زورآنهارا برملت مظلوم ماحاکم ساخته اید حمایت ننماید . وثروتهاي ملي مارایغارت نبرید ودست از مداخلت وتجاوز بردارید . ولي هنوزنماینده روسي نفهمیده است ماچه مي خواهیم !؟ معلوم است مثل گذشته هنوز بقول معروف سراین ها بوي قرمه رامي دهد وبازخیال ادامه این وضع را اگربتوانند ادامه دهند دارند . زیرا نمي خواهند بدانندو حرف حق رابشنوند !

بعدازمراجعت ازپاکستان هیئت روسي گفته است اسیري را که به هیئت مجاهدین سپرده اند از تبعه کشور روسي نبوده افغاني بوده است !! اولا قابل یادآوري است طوریکه دربالاتذکرداده شده مادرزیر فشار دیگران نباید منافع ملت خود رانادیده بگیریم ، هنوزکشور هاي اسلامي هرکدام درقلمروجغرافیاي شان منافع بخصوص دارند که واجب است رعایت شود . وبر منافع کلي باهم برادرانه باشند ، نه اینکه منافع ملت مارافداي خواسته هاي خود بسازند . پس تاختم کاربابد یك اسیر آزادنشود .

نمي شود اسراي را وبالاتسان راکه مرتکب خیري وشري گردیده است به کسي دیگري داده وبالتحفه داد !؟ شاید قانون بردگي کمونیزم این گونه معاملات را تقاضا نماید ، ولي مسئله اسیران جنگي که مجاهدین آنهارا درمیدان رزم بدست آورده اند موضوع عادي وساده اي نیست باید رژیمهاي متجاوزشان زیرفشار خانواده هاي اسیران باشند تا دست ازجنایت بردارند وبه این گونه فشارها ازخوي درندگي شان کاسته شود .

هیئت روسي درحقیقت هم به مسلمانان روسیه توهین کرده است وهم به کسانیکه این لطف را به روسها کرده اند واسیرمسلمان آسیایي را آزادساخته اند ! معلوم است دولت مداران روسي به مسلمانان آسیایي هیچ ارزش قایل نیستند ، وبدنبال آزادي اسیران شان نمي گردند . زیرا اسیر آزادشده مسلمان بوده است . وآنها روس بکارداشته اند . ازجانب دیگر تهمت وافتراواتهام به کسانیکه اسیررا آزادکرده اند شده واین مسئله بزرگي است که باید پیگیري شود . روسها به هیچ پیمان صادق وپاي بند نیستند اگر درقطع نامه پایان مذاکرات مسکو قیدشده روسها حکومت عبوري اسلامي را قبول دارند ، ونیز تجاوز را به افغانستان محکوم کرده اند ، کاري خیلي بزرگي نشده است .

زیرا : اولا آنها خوب مي دانند، که قیام توسط مسلمانان افغانستان علیه کمونیزم وتجاوز ارتش سرخ صورت گرفته واین انقلاب وجهاد عظیم توسط رهبران مسلمانان رهبري گردیده وازجانب ملت افغانستان که ملت مسلمان است واندیشه بیروني را قبول نکرده است . حمایت شده وتداوم یافته است پس حکومت اسلامي آینده بهرصورت وقیافه که باشد پسوند اسلامي را باخود خواهد داشت .

ثانیاً : درقسمت محکومیت تجاوزات نظامي شان به ملت مسلمان وکشورما آنها رژیمهاي قبلي را قبلا نیز مسئول این کاردانسته اند . وازجمله صدها اتهام که برآنها واردشده یکي هم اینست وآنهابراي تبرئه خود وقناعت جامعه روسي هم که شده باید این کارراکرده باشند نه بخاطر ما . بناً لازم است درراه مذاکرات باروسهاي حیله گر وپیمان شکن ودروغ گو بدرستي عمل نمود .

دیده مي شود، هنوز روسها طرف اصلي قضیه اند ومي خواهند این حق راداشته باشند، وبراي حفظ آن سرمایه گذاري مي کنند .

براي حمایت ازنوکران سابقه دارشان ، حتي عهدوپیمان خودرا نیز زیرپامي گذارند .

فرداششم جدي سالگرد حمله وهجوم مرگبار ارتش وحشي سرخ به سرزمین اسلامي ماست، حمله اي که درامتداد بیش ازسیزده سال زمان طولاني روبا روبي حق وباطل را در دادگاه تاریخ بنمایش گذاشت وبشریت را درطول زمانها به قضاوت طلبید، ودرنخستین آتش مسلسل فریاد برآورد که باطل نابودي شدني است وحق براي همیش پایدار باقي خواهد ماند . واین حقیقت امروز در برابردیدگان صدهاملیون انسان درروي زمین قرارداره .

حق هرچندظاهراً کوچك باشد بزرگ است ، وباطلان آنراکوچك قیاس مي کنند بر هرباطل ظاهرا بزرگ غلبه حاصل خواهد کرد. ملتیکه تاپان لحظه وباهر دشواري وسختي براهش ادامه دادهاست . وپیروزیهاي بزرگي را بدست آورده باید به پیروزي نهایي اش ازهرکس دیگرآگاهي وایمان قوي داشته باشد وآینده خودرا خودش وبدست هاي خودتعین نماید، طوریکه درمیدان رزم وشهادت ، ازمردانگي ودرایت وپایداري اش داستانهاست درمیدان، سیاست ومدیریت وبرخورد منطقي وفکري وتبلیغاتي نیزباید سرآمدباشد وهمه تجارب واندوخته هاي معنوي خود رابکاراندازه. درآن صورت پیروزي امري حتمي است . ودربرقراري حکومت اسلامي نباید هیچ تشویش داشت .

زمونږ دجهاد پس منظر او روان حالت ته یو ه کتنه

مبشر

زمونږ له گران تاتوبي نه څخه دروسانو په تیښته وتل دمجاهدینو لپاره ستریریالیتوب اودېښېړي سوبې دترلاسه کیدو بېکاره نښه وه .

ځکه چې دروسي یرغلگراومتجاوز پوځ درانگ په لومړیوکې نړیو الوداسي اټکل کاوه چې گوندي افغانستان هم دمنځني آسیا داسلامي جمهوریتونو په څېر دسره ښامارترستوني تیراوداافغان مومن ملت نوم دنړې له مخې ورك شو خوهیڅانه دانه وه معلومه چې تقدیرداافغانانو پرخلیك څه لیکلي و .

ربښتیاهم الله تعالي هغه څه کړي چې دچا په خیال او خاطرکي هم نه گرځي، نړیوال استکبار اودوخت طاغوتي ځواك دداسي ببرزلو په مهورراوبرخوي چې سړي گوته په غاښ هك حیران پاته شي .

خوډافغانانو په هکله دنړیوالو داسوج اواټکل چې دروسانو په پوځي یرغل سره دافغاني مومن ملت نوم دنړې له مخې ورك شو بالعکس وبربښید، ځکه روس ربښتیا هم دافغانانو دتاتوبي دورانولو او تالاتارغه کولوپه خاطر دخپل ټول ځواك په ازمایلو سره شبخون کړي و اودمومن افغان ولس دښکارکولو لپاره یې له هرډول وحشت اوزورگیرۍ څخه کاراخیست اوزمونږ ویاړلي ملت پخپل دام کې راگیرول یې غوښتل، خوروسان پخپله لومه کې راگیر اودتورووښکارشول .

زمونږ دکور ورانولو پرځاي یې خپل کورداسي دړې وړې شو چې چیغې اوسورې یې ترآسمانه ورسیدې .

دحق اوباطل پدې معرکه کې دافغانانو برلاسي هغه ستر تاریخي بري دي چې په گرده نړې کې یې ساري نشي تر لاسه کیداي .

ځکه تردغه وخته پورې ددغه سترسریخور ختیځ امپریالیزم (کمونیزم) ته چاداسي په نره مقابله کړې وه اونه ورته چاداسي تیغ په تیغه ځواب ویلي و . بلکه دروس په وړاندې مقابله څولاڅه چې هغه ځواب ویل به یې دځان دنابودې سترلامل گڼلو .

خوزمونږ دمؤمن ملت سرښندونکو اتلانو، قربانیو اووینو داسي رنگ راوړو چې " دمنځني آسیا اسلامي جمهوریتونو ته یې هم داتوان وروبابه چې نن ورځ دخپلي خپلواکۍ له لوي نعمت څخه برخمن کیږي اوهغه وخت رارسیدلي چې دغه اسلامي ریاستونه یوځل بیا خپل له لاسه تللي وقارترلاسه اودملگرومللتوپه صف کې دنوروخپلواکوهیوادوپه څیر داخل اوآزادي یې دټولې نړې دهیوادونو لخوا په رسمي توگه پیژندل شي .

زمونږ دمؤمن ولس نه ابلیدونکي هوډاوپرازادۍ دمینتوب هنگامه پرتهوله نړې خوره شوه اونړیوالوته هم معلومه شوه چې افغانانو دخپل مظلومیت اوبیوزلي سره سره دنړې له بوسترمادي ځواك له منگلو څخه دخپل ځان اوخاوري دآزادي حاصلولومیدان وگټلو، خوزمونږ تاریخي پاځون اوته هیریدونکي بیساري قرباني بوازې دآزادي دلاسته راوړلو په خاطرنه ، بلکه دخداي (ج) دقانون دحاکم گرځولو په لاره کې ډیر سترازمیښت اودروند مسئولیت دې زمونږ له سترااسلامي خوځښت اویدلون څخه دنړې ټول استکباري اواستعماري ځواکونه په ویره کې پریوتي چې بېکاره اوڅرگندمثال یې امریکا اودهغه لویدیځ انډیوالان دي چې زمونږ داسلامي حاکمیت ، آزاد افغانستان اودسوکاله راتلونکي میرځي کوي .

اوهڅه کوي چې دختیځ لویدیځ دمسلمانانو ترمنځ د تعلقاتو اوروابطو اصلي منشا اوریشه (اسلام) له مینځه یوسي چې ددغوریښو په غوڅولو سره به دختیځ لویدیځ داسلامي ملت دوحدت اویوالي کلیه دتل لپاره خاموشه کړي چې ترهغې وروسته به بیا ملي اوتوکمي جریانات رامنځته کړي اوددې لاسوهنې په نتیجه کې به اسلامي ملکونه خود په خوده دنامعقولو اختلافاتو له امله دنابودي کندي ته وریریوځي .

ختیځ اولویدیځ ښکیلاکگرپه گډه داسلام په موجودیت مرگاني گوزارونو اوچلولو ته پیڅې راپورته کړي، خو ربښتني مسلمانان ددغوستروسکارانو اوفریبکارو دحیلو اوتیرنگو نو په دام کې نه راگیر کیږي بلکه دهغوي په وړاندې دنه ستري کیدونکي کاروان جوړولواوتیارولو زیرمه کوي .

هو ! داخبره هیرول ندي پکارچې استعماري ځواکونو په ناخایې توگه داسلام اومسلمانانو په وړاندې جگړه نده پیل کړې بلکه له ډیرې اوږدې مودې راهیسې غواړي په تدریج سره په افکارو اواذهانوسلطه قایمه کړي اودملې گرایانو په رامنځ ته کولو سره اسلامي خوځښتونه دنهیلي سره لاس وگریوان کړي او دماتې پرپوله یې ودروي .

کله چې اسلامي ځواکونه دکمزورتیا حالت ته ورسیږي نودغه دښمنان به یې بیا په سړه سینه ساوړخپه کړي شي، ښکاره خبره ده چې کله هم داستعمارگوډاگیان واك ته ورسي نودبل پراوروددغه سپاره به دېوڅه مودې له تیریدو ، وروسته په مستقیم ډول دښکیلاکگر ویه پښوکي سریدې . ځکه پخپله نشي کولاي چې خپل طفیلي ژوندته پیله هغوي څخه په آزاد اوخپلواك ډول دوام ورکړي چې یومسلمان هیوادددغه ډول ناخوالې وکړي دآزادۍ پخاطر له ډیرې اوږدې مودې راهیسې هرډول مشکلات ورزغمل، دیو سترقدرت دوحشت پښې ماتې اوغاښونه یې ورووېستل .

نواوس که خداي (ج) کول هغه وخت ډیر ژر رارسیدونکي دې چې داستعماري وحشت دپاتې شونو تغرله گران افغانستان څخه ورټول اویوځل بیا زمونږ دتاریخي ویاړلي ملت خوښۍ اودغیرتي خاوري پښېږه آزادي په برخه شي .

همدا اوس چې زمونږ دگران هیواد اتل اوقهرمان مجاهدین دکمونیزم په پاتې ځالو دنابودې په خاطر آخرني درانه گوزارونه کوي اودلویوښارونو محاصره یې پخپلو لاسوکي اخیستي اوله ځلوروخواوو څخه یې ترخپلو گوزارونو لاندې نیولي، خوبدغه محاصروکي دمجاهدینو له هرڅه نه زیات کوشش اوتوجه دې ټکي ته ده چې دبې گناه ښاریانو له مالي اوځاني تلفاتو پرته دلحادي رژیم دځالو وروستني آثار دشاروپه دننه کي له مینځه یوسي .

له همدې مبه زمونږ مجاهدین غواړي ددغه ډول کلابندیو په کلك اوډوامداره توگه سانلو سره د کابل رژیم درسد هرډول لاري بندي کړي خوپه دغه ډول ښاروته اواوسیدونکي یې له زیانو خساراتو اوتلفاتو څخه خوندي پاتې شي

اودښمن ته یې له تسلیمي پله لاره اوچاره ، پاتې نشي، ځکه زمونږ دانقلاب هدف اوغایه همدادي چې ټول ملت دارام اوسوکاله ژوند تیرولو اودعامه منفعاتواوموسسانو په پوره ایماندارۍ اوصداقت ساتنه وکړاي شي، دوېرې اوډارفضا له مینځه لاړه شي، ځکه دروسانو په تاولو لاسونو تالاوالا شوي افغانستان ترهرڅه دمخه آرامتیا اودلویشت لویشت خاوري اودوطن پلورونکو" خلق اوپرچم "باندونو په کلي ډول له مینځه تلوته اشد ضرورت لري داځکه چې بیا له پورتنیو شرایطونشي کیداي په افغانستان کي پوره امن رامینځته شي، دوېرې اوډارفضا له مینځه لاړه شي، اوبیادې دجادژوند دتامین په برخه کي خبره وکړاي شي .

مونږ ټولو اسلامي هیوادونو اودگردې نړې هغو ملکونو ته چې دافغانستان دستونزې اوبیرې دحل اوله مینځه وړلو په برخه کې، خواخوږي، اودلچسپي لري اوغواړي پدې برخه کې په خلاص مټ کومکونه اولاس اصلاد وکړي ، هغوي ته ددې خبرې یادگیرنه کروچې : باید دکابل له مزدوررژیم سره هرډول اړیکې وشلوي، هیڅ ډول کومك اومرسته ورسره ونکړي خوپه رژیم باندي هرډول فشار راوستل شي او له هیواد څخه یې تګرټول اوزمونږ مؤمن ملت ته دخپلي خوښې حکومت جوړولو موقع ورکړاي شي .

داچې زمونږ دجهاد لړۍ دوام لري اوکه خداي کول دکامیابي سرحد ته رسیدلي چې پدې اساس دوستان یې دډیرې نږدې سوبې په خاطر دانتظارشیبې شماري اودښمنان یې له خفگان اوویرنه په ډکې فضا کې دناکامه کوښښونو اوخنډاتوراپیداکولو لاس او پښې وهي، خوانشاء الله تعالي ددښمنانو دانړولي بیځایه هلي ځلې به په بومخیږه توگه په سیندلاهو اوله خجالت څخه به یې بل څه په برخه نشي .

دروسانو اوسنیواقتصادي ،اجتماعي اوسیاسي ستونزوته یوه کتنه

دمحمد داؤدبهارلیکنه

سره لدي چي په روسیه کي نوي بدلونو ته روان دي خوهغه هیواد (روسیي) ته دکمونستانو له ۷۳ کلني حکمراني نه داسي څه په میراث نوي پاتي شوي چي دروسیي اوسني مشران پري وکولاي شي چي خپلي اقتصادي ، اجتماعي ، اوسیاسي ستونزي حل اوله مینځه یوسي او گورباچوف خپل هغه پلان چي په روسیه کي ئي دبیا رغاونې په نوم طرحه کړي په عمل کي پلي کړي .

که له یوي خواگرباچوف اوطرفدارانوئي داحقیقت درك کړي چي دکمونیزم خیالي اوبي معني مفکورو ئي ټولنه دبربادي کندي ته اچولي او نن ئي دکمونیزم دړنگیدو په خاطرخپلي متي رانغاړلي خوله بلي خوانه بي داغته اشتباه کړي چي نن ئي خپل پام دغرب اوامریکي دخیراتونو اوکمکونو په لوراړولي اوبدي فکر دي چي گواکي پانگوال اقتصادي سیستم به ئي دټولني اقتصادي ، اجتماعي اوسیاسي ستوزي حل اوله مینځه یوسي اوروسیي ټولني ته به له اقتصادي بحران نه دخلاصي لار وموسي، ولي واقعیت بل اوهغه دادي چي نن دغربیانواوامریکایانو بي حسابه اقتصادي مرستو اوخیراتونو هم دروسیي په مشکلاتونه بوازي دملهم پټي ندي اینبي بلکه په روسیه کي ئي دومره مشکلات راپیداکړي چي نن ئي روسیي افسران اوامنیت مسئولین له علاج نه داسي عاجز پاتي شوي چي دهیروناورو پیښومخه په رڼاورځ هم نشي نیولي اوهمدي کار (اجتماعي فسادونو) په روسي ټولنه باندي دومره بدتاثیرکړي چي اوس دروسي لوي ښاراوپایتخت (ماسکو) هم په ټوله نړي کي دامنیت دخرابوالي له کبله لومړي درجه ښارگڼل شوي دي .

اوهغه ځکه چي په نوموړي ښار (ماسکو) کي په رڼاورځ دخلکوکورونه وهل کیږي اوحتي داړه ماران له تکسي گانونه جاپاني ټیپونه اورادیوگاني هم په ورځ زورخلاصوي اوپیاني په تورو بازارونو کي دڅورویلونوپه بدل کي خرڅوي .

په روسیه کي دمخدره موادواستعمال، مخفي بیکاري، موسمي بیکاري او بدي خوړل نوري هغه اجتماعي معضلي اوفسادونه دي چي اوس اوپخوا په روسیه کي وواوښته خوحل په هکله ئي دروسیي پخوانیو اواوسنیو مشرانوکوم جدي گامونه ندي پورته کړي داځکه چي دروسانو اقتصادي سیستم پخوااواوس هم پداسي منظمو اقتصادي پلانونو ندي ودریدلي چي په هغه سیستم کي داجتماعي فسادونو اودنوروستونزو دله مینځه وړلو لپاره کوم خاص پام شوي وي

بلکه واقعیت دادي چي دروسانو دجامعي اساس په خیانت دریدلي و اولاتراوسه په خیانت ولاړپاتي شوي اوداقسادونه (اجتماعي فسادونه) په په روسیه کي ترهغه وخته دوام ولري ترڅوچي روسان په واقعي توگه دخپلي جامعي سرنوشت ته پام وکړي اوپه یوه داسي لارچي په هغي لارکي ئي ددنیا اوآخرت سعادتونه تضمین شي حرکت وکړي اوهغه لار دروسانو لپاره داسلام حقیقي لاره ده اوبس ، اوکه داسي ونکړي

نولیري به نه وي چي له پانگوالي اقتصادي سیستم نه به هم داسي ترخي خاطري اوتجربي ترلاسه کړي لکه چي نن ئي له کمونستي نظام نه ترلاسه کړي اوخپله روسان پدي اعتراف کوي چي دجامعي داوسیدونکو بدبختي ئي دکمونستي نظام دغلطو مفکوروتیجه ده چي اوس ئي دحل په هلکه روسي زمام داران عاجزپاتي شوي دي .

یادونه : مخفي بیکاري هغه بیکاري ده چي یوه پروژه کي له ضرورت نه دزیاتوخلکو (کارگرانو) داستخدام په سبب راپیداکیږي مثلا که دیوي تولیدي موسسي دکارپروسه د ۲۰ کارگرانوپه استخدام سره سرته رسیږي دولت ددي لپاره چي دکارگري اعتصابونو اوپه اصطلاح دبیکاري مخه ئي نیولي وي په همغه موسسه کي ۳۰ کسه استخداموي چي په حقیقت کي لس تنه دمخفي بیکارانو په نوم ددولت دغلطي پالیسي په نتیجه کي استخدامیږي اوداکاریه روسیه کي په زیاته پیمانه وجودلري .

موسمي بیکاري : هغه بیکاري ده چي دزراعت په ساحه کي دیوه فصل له کرلو وروسته دبل فصل دکرني تروخته رامینځ ته کیږي دمثال په توگه که په یوه هیوادکي بزگرانودغنمو کرنه دعقرب په ۱۵ نیټه سرته ورسوي په هغه صورت کي چي بزگرانو ته جامعه کي دنوروکارونو زمینه برابره نشي نوموړي بزگران مجبوردي چي دجوزا تر ۱۵ نیټي پوري دبل فصل دکرلو اودغنمودفصل دراټولولو په امید تقریبا ۷ میاشتي بیکاره کیني چي واقعا داکارهم دیوه هیواد دبزگرانو په ژوند منفي اغیزه کوي لکه چي نن ئي دروسي بزرگرانوپه ژوند کړي اوبزگران ئي په خپل هیواد کي له قرارته قرارته اړکړیدي ترڅوپه نورو هیوادو کي دیوي مړي ډوډي خاوندان شي .

داجتماعي معضلوترڅنگ اقتصادي ستونزي هم په روسیه کي دومره زیاتي شوي چي حتي مرکزي بانکونه ئي هم له مفلسي سره لاس په گریوان دي اوکه روسانو سره غربیانو اوامریکایانو اقتصادي مرستي نه واي کړي نو دروسانو اقتصادي ستونزي به لدي هم زیاتي شوي واي ولي خارجي خیراتونو اومرستو روسیي ته دومره اقتصادي قدرت وربه برخه کړو چي دڅه وخت لپاره ئي له سقوط نه وژغورلو اوڅه ناڅه ئي په اقتصادي لحاظ تمویل کړ .

انقلاسیون ، احتکار، قاچاق اوداسي نوري ناوړه اقتصادي اواجتماعي ستونزي نن په روسیه کي دومره زیاتي شوي چي دولت ئي هم له علاج نه عاجز پاتي شوي دي اوپدي هکله دروسیي یوه تکره لیکوال په هغه ، کنفرانس کي چي دمهاجرینو په هکله ایتالیا کي دایرشوي و داسي ویلي و چي " اوس میلیونه روسي اتباع غرب ته دمهاجرت نیتونه لري اوداني هم زیاته کړي وه چي ددي مهاجرتونو اصلي علت په روسیه کي اقتصادي بحران اوسیاسي بي ثباتي ده "

هوا نن چي بي شمیره روسانو دلودیځ اونوروهیوادونوپه لور دمهاجرت نیتونه کړي اواقتصادي مشکلاتو لامله بي خپل پلرني وطن ته شاه اړوي داهم دروسیي مشرانو په بي ثباتي دلالت کوي چي اقلا دخپلوهیوادوالوپه اقتصادي زخمونو هم دملهم پټي نشي اینښوداي اوغونښتنوته ئي مثبت ځوابونه نشي ویلاي

انفلاسیون هم هغه وخت په یوه هیواد کي رامینځ ته کیږي چي په جریان کي ئي دپوتو پیسو اندازه نظرتولیدشوو اجناسوته زیاته شي، ځکه په جریان کي دپوتوپیسوزیاتوالي دخلکو (دجامعي داوسیدونکو) تقاضا زیاتوي اوزیاته تقاضا دقیمتونو دلوړوالي اوپه نهائي تحلیل کي دانفلاسیون سبب گرځي لکه چي نن په روسیه کي همداکار (انفلاسیون) دقیمتونو دلوړوالي باعث گرځیدلي اودیرني هغه څوك زیانمن کړي چي دکم اوثابت عاید خاوندان دي اوطبعا دا طبقه (دکم اوثابت عاید خاوندان) خلك په روسیه کي دیرزیات اوله حسابه وتلي دي .

احتکار : دتولیدي اجناسو ذخیره کولوته پدي نیت چي قیمتونه به ئي په آینده کي لوړشي وایي چي داعمل (احتکار) هم ټولنه له اقتصادي اواجتماعي ستونزوسره دمخ کي دقلت په اساس مخامخوي اودیر دهغه چاپه زیان تمامیږي چي دکمي پانگي خاوندان وي ځکه ناداره اودکمو پانگوخاوندان خوراکي او نوي دضرورت ورشیان نشي ذخیره کولي نوواقعا احتکارئي چي دقیمتونو دلوړوالي باعث کیږي په زیان تماميږي اوهمدا علت دي چي نن په روسیه کي هغه څوك چي دزیاتو پیسو خاوندان دي خوراکي اونوي اجناس احتکاروي اوبیا ئي په تورو بازارونو کي په لوړه بیه پلوري چي دي کارهم دروسیي دزیاتو اتباعوپه ژوندانه ناوړه اغیزه کړي اوزیات خلك ئي ترروحي اواقتصادي فشارلاندي راوستي دي .

دااقتصادي فشارونوله کبله شوروي اتحاد دي ته مجبورشوي چي اوس نوخپله اتومي اوفضائي تکنالوژي په امریکي وپلوري اوخپل اقتصادي مشکلات پري حل کړي همداشان دنیویارك ټایمز په حواله وبل شوي چي دشوروي اتحاد فضائي صنعت دسورجنگ په جریان کي دهغه هیواد (روسي) له لوي صنعت څخه گڼل کیده اوپه خاصو امنیتي تدابیروئي روسانو ساتنه کوله ، په همدي توگه نیویارك ټایمز زیاته کړه چي امریکایان علاقه لري چي د ۱۲ میلونو دالرو په ارزښت دروسیي غوره اتومي راکتورونه هم راونیسي اوهمدي معاملي په نسبت ځوامریکائي هیئتونو مسکوته سفرونه کړي اوپدي برخه کي لا تراوسه خبري رواني دي .

له بلي خوادروسي یو دگرجنرال والدري مانولوف چي دشوروي ددفاع په وزارت کي دعامه ارتباط دځانگي مشردي ویلي " که دروسي ددفاع منظم سیستم چي نن ئي روسان داقتصادي مشکلاتوپه اساس رنگړي وران شي نو کیداي شي چي روسیه اونړي دیوه تباه کونکي خطرسره مخامخ شي ".

جنرال مانولوف وائي " په شوروي اتحاد کي اوس اتومي وسلي پداسي یوه جامع امنیتي سیستم کي خوندي شوي دي چي دده په قول نه پریږدي چي بي مسئولیته خلکو لاس ته ورشي مگرجنرال مانولوف وائي که دشوروي دفاعي سیستم رنگ شي اوجعلشوي وسله وال یوځ ددښمنانو لاس ته ورشي نویه هغه صورت کي دهرشي احتمال شته دي ".

دنوروستونزوپه خواکي روسانوته ولي، ولي سیاسي ستونزي هم پرتي دي اوهغه ځکه چي له یوي خوا روس خپله پخواني دبدبه دافغانانو دجهادي پاڅون له برکته له لاسه ورکړي اودورڅوپه تیریدوسره له مسکونه هغه جمهوریتونه چي ترپرونه پوري دروسانو داستعماریه ځنځیرکي ښکېل وو خپلي آزادي اخلي اوله بلي خواروسان دخپلوغلطوپالیسیوپه نتیجه کي خپل بین المللي دوستان هم له لاسه ورکوي لکه چي نن ئي له لاسه ورکړي هم دي ، اوله دي سره سم دمرکزي آسیا په اسلامي جمهوریتونو کي داسلام دیوي روښانه کیږي اودکمونیزم دبي معني شعارونو ځاي دالله اکبر اولااله الاالله محمدرسول الله مقدسي ناري نیسي اوپه دي ترتیب دمرکزي آسیامسلمانان له یوي اوږدي دوري وروسته دقرآنکریم له آیاتونو اودحضرت محمد (ص) له احادیثو نه په زړه پوري لذتونه اخلي چي داکار هم په سیاسي لحاظ دروسانو اوغربیانو لپاره دزغم وړندي ځکه روسان اوغربیان پدي شه پوهیږي که یوځل بیا په مرکزي آسیا او افغانستان کي اسلامي انقلابونه بریالیتوب ته ورسیږي نولیري به نه وي چي مسلمانان خپل تاریخي شهامت راژوندي اوپه پښو ودروي اونړیوال استکبارته دعبرت درسونه ورکړي .

روس ته نوري سیاسي ستونزي داحتمالي کودتاه گانو رامینځ ته کیدل دي چي اوس هم روسي ټولنه تریدوي اوهمدي تکي (احتمالي کودتاگانو رامینځ ته کیدو) روسي مشران له سخت گواښ سره مخامخ کړي اوهغه ځکه چي په روسیه کي تیري ناکامي کودتا داوښوده چي اوس هم روسي کمونستان دگرباچوف اودملگرو داصلاحاتو په وړاندي ئي خندونه راپیداکوي اولاتراوسه دگرباچوف مخالفین دانتقام په درشل کي ناست دي ولي واقعیت بل اوهغه دادي چي نورنو دروسي کمونستانو هلي ځلي بوازي اوبوازي دوخت له ضایع کیدوپرته بل څه پلاس نشي راوړلي ځکه روسي اتباعوته اوس دامعلومه شوي چي دکمونیزم اقتصادي سیستم ئي جامعه دتباهي په لوررهبري کړي اودوي ئي له ،راز، راز ستونزوسره لاس په گریوان کړي دي .

ما بارهائی اسرای روسی قبل از رهائی ۰۰۰

۱- قرارگاه غند ۲۸ واقع قریه خروتي .
۲- قرارگاه غند ۲۶ واقع بندغازي .
۳- هفت پوسته کوه کریوري .
٤- چهارپوسته مس عینك .
٥- سه پوسته دوران خیل .
٦- دوازده پوسته منطقه سروبي .

دراین تعرض توسط سلاح توپچي مجاهدین مواضع دشمن تخریب گردیده شش پوسته دشمن فتح ، هشت نفرمجاهدین زخمي وچهار نفردیگر به شهادت رسید. سلاح هاي ذیل به غنیمت گرفته شده است :

۱- کلا شینکوف ۳۰ میل
۲- راکت آرپي جي ۷ = ۲ میل
۳- زیکاویك ۱ میل
٤- هاوان ۸۲ یك ضرب
٥- پیکا ٦ میل
٦- اسراي دشمن ۲۱ نفر
۷- صاحبمنصب ۱ نفر

وعملیات فعلا هم جریان دارد که راپور وقتا فوقتا به اطلاع برادران رسانیده خواهد شد .

سوال : وضع وحدت بین تنظیم هاي جهاد درمنطقه شماچطوراست ؟

جواب : دربین مجاهدین منطقه ماالحمدلله وحدت وروابط حسنه موجود بوده که اکثرا عملیات هاي تعرضي رامشترکا انجام داده ایم وجهت وحدت بیشتر خویش شوراي ساخته شده که بنام شوراي جهادي کابل مسمي بوده دراین شوري اکثرا مسایل حل وفصل مي گردد که درراس این شوري به اکثریت آرا قوماندان صاحب ارسلا خان مربوط تنظیم حزب اسلامي مولوي خالص قراردارد عملیات تعرضي که قبلا تذکر داده شده درآن مجاهدین ولسوالي هاي چهار آسیاب ، بگرامي، سروبي ازهمه تنظیم ها اشتراك ورزیده اند .

سوال : درقسمت خنثي ساختن توطئه ها ویلان هاي شوم دشمن درمنطقه مربوط جهادي کدام برنامه تازه روي دست دارید باخیر ؟

جواب : شما میدانید که پیروزي انقلاب اسلامي افغانستان که منجر به تشکیل یك حکومت اسلامي درافغانستان گردد براي دشمنان اسلام یك خطربزرگ است دشمنان آرام نه نشسته براي مجاهدین توطئه هاي بزرگ را روي دست گرفته که درراس این توطیه گران امریکا ویهودي ها کارمي کنند . اختلافات دربین مجاهدین عدم اطاعت قوماندان ازرهبرش واین توطیه ها ازطرف تامسن رهبري مي گردد طوریکه قبلا تذکر دادیم مجاهدین یك شوراي ساختند ولي دشمنان اسلام تحت رهبري تامسن کوشیدند که یك تعداد ازبرادران مارا ازشوراي خارج نموده وشوراي دیگر را تاسیس نمودند که انشاء الله جهت خنثي ساختن این توطیه خواهیم کوشید که برادران خفه خویش را دوباره درشورا داخل نمایم ویه اوشان بفهمانیم که ازدشمنان اسلام اطاعت نه نمایند . وهم جهت خنثي ساختن توطیه اختلاف دشمن، وقتیکه داخل منطقه گردیدیم باقوماندانان آتي نشسته که ازآن جمله .

۱- محمدبشیرخان مربوط اتحاد اسلامي افغانستان .
۲- تحویل دارصاحب حبیب الرحمن مربوط اتحاداسلامي افغانستان
۳- زرداد مربوط اتحاد اسلامي افغانستان
٤- روزي خان مربوط اتحاد اسلامي افغانستان
٥- جلال الدین مربوط اتحاد اسلامي افغانستان
٦- غلام باقي مربوط اتحاد اسلامي افغانستان
۷- حاجي صاحب محمدنظیر مربوط حزب اسلامي مولوي صاحب خالص .
۸- زمرك مربوط حزب مولوي صاحب خالص
۹- میامحمد آغا مربوط حزب اسلامي مولوي صاحب خالص
۱۰- ظفرخان مربوط حزب اسلامي مولوي صاحب خالص
۱۱- کفتان مربوط حزب اسلامي مولوي صاحب خالص
۱۲- سیدآغا مربوط حرکت انقلاب اسلامي افغانستان
۱۳- صوفي خاکسار مربوط حرکت انقلاب اسلامي افغانستان
۱٤- محمدالله مربوط حرکت انقلاب اسلامي افغانستان
۱٥- ملاگل حبیب مربوط حرکت انقلاب اسلامي افغانستان
۱٦- محمدحسن خان مربوط محاذملي اسلامي افغانستان
۱۷- ماموربسم الله مربوط محاذملي اسلامي افغانستان
۱۸- دیدارمربوط جبهه نجات ملي افغانستان
۱۹- محمدحسن مربوط جبهه نجات ملي افغانستان
۲۰- حاجي محمدرفیق مربوط نجات ملي افغانستان
۲۱- دوست محمد مربوط جمعیت اسلامي افغانستان
۲۲- خان محمد مربوط جمعیت اسلامي افغانستان
۲۳- درویش مربوط حزب اسلامي افغانستان
۲٤- حزب الله مربوط حزب اسلامي افغانستان
۲٥- همدرد مربوط حزب اسلامي افغانستان
۲٦- مولوي بسم الله مربوط حزب اسلامي افغانستان
۲۷- محمدي مربوط حزب اسلامي افغانستان
۲۸- استاد عارف مربوط حزب اسلامي افغانستان

که بااین برادران دراوقات مختلف شوري هاومجالس صورت گرفته ودریك سنگرداغ جهادخویش را ادامه داده ایم تا ازاختلافات جلوگیري صورت گیرد .

سوال : نظرتان درمورد شوراي قیادي فعلي چیست ؟

جواب : دراین شرایط حساس که انقلاب اسلامي درحالت پیروزي بوده وازطرف هم دشمنان اسلام ازهردروازه سرخوردا بیرون آورده ومیخواهند که نتائج انقلاب رابه نفع خویش بچرخاند مسایل حل سیاسي را به پیش انداخته بناء به یك قیادت واحد ضرورت بوده تا آرمان مجاهدین رابه گوش جهانیان رسانیده به عقیده بنده بجز شوراي قیادي که بتل آرمان مجاهدین شود دیگرراه نزدیك وعاجل به نظرنمیرسد اگرچه یك تعدادا ازبرادران درمورد چنین استدلال مي کنند که باید اشخاص اهل حل وعقد جمع شود تادرمورد مسایل سیاسي کشور فیصله نماید من نمیدانم که اهل حل وعقدازطرف چه کساني تعین شود اگر منظور ازهمان نوع شوراي اهل حل وعقد باشد که درراولپندي جمع شده بودکه ازیك رهبرتمام اقارب اش مستحق شوراي بوده وازدیگري ازیك ولایت ولسوالي مستحق این مقام بوده بناء مشکلات بوده جهت رفع این مشکل طرح شوراي قیادي را تائید مي نمایم. درجاي هم انتقاد را شنیدم که این رهبران صلاحیت شوراي قیادي را ندارند نمي دانم که درین سیزده سال رهبري انقلاب هیچ دعواطلب غربي پیدانشدکه عوض این رهبران ، رهبري جهادرا بردوش بگیرد انقلاب که درحالت پیروزي است مایندمهربانترازمادر ازکجاشد .

سوال : به نظرشما حل قضیه افغانستان ازراه سیاسي بهتراست ویانظامي ؟

جواب : یك ملت که سیزده سال متواتر درجنگ مقدس مصروف باشد بالاخره به نتیجه برسد که یك ابرقدرت بزرگ را پارچه پارچه نماید بیشتراز ۹۰ فیصد خاك خودرا آزاد سازند چقدر ساده لوح بوده باشد که منتظر بنشینند که نتایج آخري خودرا ازدست دیگران بگیرند اگرچنین باشد این شخص ازدوحالت خالي نیست .

یامجبور اند بدون عقیده درجهاد شامل شده اند ویا اصلا این شخص بوي جهاد درمشام شان نرسیده است بنده به حل سیاسي بکلي متعقدنبوده وبدون جنگ ممکن نیست بناء راه نظامي بهتراست .

سوال : ملاقات هاي هیئت فدراسیون روسیه شوروي باهبران جهادي در اسلام آباد جریان دارد نظرشما دراین مورد چطور است ؟

جواب : هیئت فدراسیون روسیه به عقیده بنده صرف جهت رهایي اسراي خویش تپ وتلاش دارد نتیجه ملاقات اوشان چیزي دیگري نخواهدبود ورهایي عساکرشوروي درحالیکه به هزارها مجاهد درزندان هاي ایشان اقتیده وآنرا رهانمائید - رهایي اسراي روسي راماشدیدا تقبیح نموده ومخالف این عمل میباشم .

سوال : مورال جنگي غند مربوط تان دربرابر رژیم را ارزیابي نمائید ؟

جواب : غندالفتح که ازتاسیس آن هشت سال مي گذرد درجریان این هشت سال یگانه قرارگاه مجاهدین بوده که تاهنوز دشمن باباداران روسي اش قادرنگردیده که یك پوسته آنرا تسخیر کند بالمقابل نقاط وسیع را ازدشمن آزاد ساخته درهشت سال پیاپي مصروف جهاد ومسلحانه میباشد همین علت بوده که سال گذشته مسئولیت محاذ ولایت لوگر بدوش این غند بوده که درشرایط سخت جوي زمستان ٤۰ پوسته مستحکم را به شمول ولسوالي محمدآغه درآن ولایت فتح نمودیم بعدا مسئولیت محاذ شرقي و جنوب شرقي بدوش این غند گذاشته شد مناطق را درچکري فتح نموده و سنگرهاي مستحکم خویش را درپانزده کیلومتري کابل ، چکري، جلغوزي ووچغري جابجاه نموده است که مجاهدین این غند به مورال قوي ومطمئن درسنگرها مصروف جهاد میباشند .

سوال : پیام تان به سنگرداران اسلام چیست ؟

